هېواد
۴ مخ

# مسیر

ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af


دوشنبه د ۱۳۹۸ د غبرګولي شپږمه | د ۲۰۱۹ د مې ۲۷مه | درېیم کال| ۳۸۰یمه ګڼه


## ارمنستان

د دغـه هېـواد ۵۰ سـلنه خلـک د کرنـې په سـکټور کـې پر کار بوخـت دي او د هېـواد ۲۰ سـلنه ناخالـص کـورني تولیـدات هـم لـه همدغـه سـکټور څخـه لاس تـه راځـي.



## سږ کال به په پکتیا کې شل زره ټنه جلغوزي راټول شي



د پکتیا ولایت د سوداګرۍ او صنایعو خونه وايي، اټکل دی چې سږ کال به له دغه ولایته شل زره ټنه جلغوزي راټول شي.
د دغه ولایت د سوداګرۍ او صنایعو خونې مشر نصیر عالمیار پرون ازادي راډیو ته ویلي، تېر کال د راټولو شویو جلغوزیو اندازه لس زره او پنځه سوه ټنه وه، چې ډېری برخه یې بهرنیو هېوادونه ته صادره شوه.
نوموړي ویلي: «هوا ډېره ښه ده، دلته بارانونه زیات دي او په غرونو کې هم د جلغوزیو ونې زیاتې دي، نو اټکل دا دی چې سږ کال به د جلغوزیو اندازه دوه چنده زیاته وي، یعنې په ۱۳۹۸ لمریز کال کې به موږ ۲۰ زره ټنه جلغوزي ولرو».
د عالمیار په خبره، نږدې ورځو کې به په دغه ولایت کې د جلغوزیو د پروسس یو ستر مرکز هم جوړ شي، چې جلغوزي به په هېواد کې دننه پروسس او د افغانستان په نوم او نښان نورو هېوادونو ته صادر شي.

# چخانسوري: په ارګ کې د اخلاقي فساد د ادعاوو په تړاو به پلټنې وشي




ارګ؛ د اخلاقي فساد تورونه او شکونه
۲ مخ

د سولې رواني هڅې او افغان جرګه؛ د سولې د خبرو ماتې ولې ناورین زېږولی شي؟
۲ مخ

د پکتیکا ماسترپلان؛ ژمنې او عملونه
۳ مخ


## د افغانستان- روسیې سل کلنو ډیپلوماټیکو اړیکو مراسمو ته طالبان او افغان سیاسیون هم بلل شوي دي

په مسکو کې د افغانستان او روسیې د سل کلنو ډیپلوماټیکو اړیکو په مناسبت، جوړېدونکې غونډې ته طالبان او افغان سیاسیون غوښتل شوي دي. دغه مراسم ټاکل شوې ده چې سبا د غبرګولي په ۷مه، د روسیې په پلازمېنه مسکو کې پیل شي. طالب وياند ذبیح الله مجاهد رسنیو ته ویلي، چې د روسیې د حکومت له خوا دوی ته هم په دغو مراسمو کې د ګډون بلنه ورکړل شوې ده، خو هغه زیاته کړې چې دوی تر اوسه په دغو مراسمو کې د ګډون یا نه ګډون پرېکړه نه ده کړې. یوې بلې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط پژواک ته ویلي، چې یادو مراسمو ته له کابله ځینې افغان سیاستوال هم غوښتل شوي دي. د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو نوماند او د ملي امنیت د پخواني سلاکار حنیف اتمر ویاند، قادر شاه پژواک اژانس ته ویلي چې د اتمر په ګډون، ځینې سیاستوال یادو مراسمو ته غوښتل شوي دي، خو نوموړي د نورو سیاستوالو نومونه نه دي په ډاګه کړي. نوموړي هلته د ممکنه بین‌الافغاني ناستې په اړه ویلي، چې د سولې په تړاو چې هره ناسته کېږي، دوی یې ملاتړ او پکې ګډون کوي. بلخوا د پخواني ولسمشر حامد کرزي له دفتره په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې په کابل کې د روسیې سفیر درې ورځې مخکې له کرزي سره په لیدنه کې ورته په یادو مراسمو کې د ګډون بلنه ورکړې ده. سرچینې زیاته کړې چې کرزي دا بلنه منلې او ګډون پکې کوي. خو په ورته وخت کې ولسمشرۍ ماڼۍ په یاده ناسته کې د ګډون او یا هم حکومت ته د بلنې په تړاو څه نه دي ویلي.

## له بندیانو سره د طالبانو ناوړه چلند اندېښمن کړي یو





۲ مخ


## محکمه ابتدائیه قاتلان مهسا را به ۳۰ سال حبس تنفیذی محکوم کرد



محکمه ابتدائیه دیوان جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی، در نخستین جلسه؛ هر یک از عاملان قتل مهسا را به ۳۰ سال حبس تنفیذی محکوم به مجازات کرد.
مهسا دختر شش ساله، (۱۹ حوت) پارسال در مربوطات حوزه یازدهم شهر کابل اختطاف و یک روز بعد، جسد او یافت شد و پولیس دو تن را در پیوند به این قتل بازداشت کرد.
در نخست، کاروان جمال څارنوال مؤظف قضیه، صورت دعوا و دلایل علیه متهم را ارایه کرده و گفت که شواهد، مدارک و اعترافات متهمان نشان می دهد که سجاد آغا و روح الله، مهسا دختر خُردسال را اختطاف و به قتل رسانده اند.
وی افزوده است که به دلیل ادعای مستقیم ورثه مقتول، اعترافات سریع متهمان مبنی بر اختطاف و قتل مهسا، اعتراف و ضبط صدای مطالبه ۳۰۰ هزار دالر از پدر مقتول، آنان مطابق به قانون محکوم به مجازات می باشند.
سپس روح‌الله اخلاص مساعد حقوقی متهمان گفت که خلاف قانون، سجاد آغا و روح الله از سوی پولیس لت و کوب شده و سپس اظهارات شان گرفته شده است؛ در حالیکه در هنگام قتل روح الله حضور نداشته است.
سجاد آغا متهم قضیه قتل مهسا گفته است: «عذاب وجدان داشتم و به همین دلیل خود را تسلیم پولیس کردیم؛ اما از سوی حوزه لت و کوب شدیم».
روح‌الله دیگر متهم قضیه افزوده است: «در وقت قتل من حضور نداشتم، وقتی خود را به حوزه تسلیم کردیم توسط پولیس لت و کوب شدیم».


Shigal English Academy



Easy English learning

+93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دريـــځ

### ارگ؛ د اخلاقي فساد تورونه او شکونه

له پخوا ويل کېدل چې په ارگ کې اخلاقي فساد دی او آن د همدې فساد پر اساس په ارگ او ځينو نورو مهمو دندو کې گومارنې کېږي. په دې اړه د ارگ کارکوونکو او آن چارواکو تل په شخصي مجلسونو کې خبرې کولې، خو دا موضوع رسنيزه شوې نه وه او نه هم چا په رسمي ډول داسې ادعا کړې وه. له هغه وروسته چې ارگ پر مهمو ځوکيو کمزوري، بې تجربې او غير مسلکي نجونې وگومارلې، نو پر ارگ نيوکې زياتې شوې. د همدغو نيوکو په دوام په خاص امنيت کې د ولسمشر غني ستر سلاکار جنرال حبيب احمدزي چې تر څو مياشتو وړاندې په ارگ کې و، ادعا وکړه چې په ولسمشرۍ ماڼۍ کې ځينې کړۍ د اخلاقي فساد د ترويج لپاره سيستماتيک کار کوي. جنرال حبيب‌الله احمدزي په کابل کې له يوه خصوصي ټلوېزيون سره په خبرو کې ادعا کړې ده، چې ځينې وزيران، د ولسمشر غني سلاکاران او د ولسي جرگې وکيلان «د اخلاقي فساد خپرولو» رول لوبوي. له دې وروسته د ارگ يوې بلې سلاکارې مريم وردگ هم په ارگ کې د اخلاقي فساد خبره کړې ده. په ټولنيزو رسنيو کې په دې تړاو له توندو غبرگونونو وروسته ارگ اړ شو، چې غبرگون وښيي. د ولسمشر وياند هارون چخانسوري پر ارگ د فساد او فحشا خپرولو ادعاوې رد کړې او هغه يې بې بنسټه وبللې. نوموړي وويل چې که له ښاغلي احمدزي سره اسناد وي، بايد لويې څارنوالۍ ته يې وسپاري.

ښکاره ده چې داسې اسناد به نه وي چې په کره ډول دا ادعا ثابته کړي او جنرال احمدزی په څارنوالۍ کې پرې استناد وکړي، خو ډېر داسې څه شته چې که ثابت نه شي، خو ارگ ترې ځان سپينولی هم نه شي. هغوی چې د ولسمشر غني په وخت کې ارگ او د چارو ادارې ته ورغلي، پوهيږي چې هلته ډېر داسې څه شته، چې د اخلاقي فساد بوی ترې راځي. دا سمه ده چې ښځې دندې او کاري حق لري، خو هېڅوک بايد د دوی له مجبوريت څخه ناوړه گټه وانه خلي او يا هم د اخلاقي فساد په لينونو بايد په دندو گومارنې ونه شي. په ارگ او چارو اداره کې د ډېرو بې تجربې، غير مسلکي او آن کم لوستو نجونو گومارنې هغه څه دي، چې پوښتنې را پيدا کوي. خبره هغه وخت لا شک او اندېښنې ته ځي چې همداسې کم لوستې، غير مسلکي او بې تجربې نجونې له ارگ څخه د باندې په لوړو ځوکيو گومارل کېږي. زموږ ټولنه دوديزه ټولنه ده او سخته ده چې خلک دې دا ډول کړنې وزغمي. اوس دا سمه ده چې نه به جنرال احمدزی او نه هم بل څوک داسې اسناد وړاندې کړي، چې په ارگ کې د اخلاقي فساد ادعاوې ثابتې کړي، خو ډېرې داسې پوښتنې او شکونه شته چې نه يې څوک د کولو جرئت لري او نه به يې هم ارگ داسې ځواب کړي، چې ستونزه حل شي، خو د خلکو په ذهنونو کې يې د شکونو او تورونو يو لوی غر جوړ کړی دی.

ارگ بايد دې چارې ته ډېر پام وکړي، ځکه افغانان په دې مسايلو کې ډېر حساس دي او هېڅ داسې گام وا نه خلي چې د خلکو شکونه او پوښتنې زيات کړي. ښځې د کار حق لري او د هغوی له مجبوريتونو بايد ناوړه گټه وانه خيستل شي او نه هم داسې فضا جوړه شي چې شکونه زيات کړي. د ښځو د گومارنې بهير بايد روڼ، واضح او له قانون سره سم وي، څو هم هغوی د کار حق تر لاسه کړي او هم د هغوی او حکومت حيثيت ته زيان وا نه وړي.

# د سولې رواني هڅې او افغان جگړه؛

## د سولې د خبرو ماتې ولې ناورين زېږولی شي؟



ليکنه: سيد خالد سادات

د افغانستان جگړه د نړيوالو مطالعاتو له نظره د نړۍ يوه له اوږدو کورنيو جگړو شمېرل کېږي. له ۱۳۵۸ لمريز کال راهيسې افغانان د کورنيو جگړو شاهدان دي. دوه کم څلوېښت کاله (يو نسل مخکې د افغانستان جگړه پيل او تر ننه يې لوگي خيژي). په نړيواله کچه کورنۍ جگړې له لسيزو نه اوږدېږي، خو افغانستان له لسيزو راهيسې د جگړو کور دی. د شوروي اتحاد پر مهال افغانانو د کمونيست او مجاهد تر منځ جگړه وکړه. دواړو لورو يعنې ښي اړخو او کيڼ اړخو د خپلې ايډيالوژۍ د افراطي استعمال له لارې افغانستان د جگړې ډگر وگرځاوه.

که په افغانستان کې د جگړې ايډيالوژيک اړخ ته نظر واچوو، نو دا په اثبات رسېدای شي چې د کمونيستي ايډيالوژۍ طرفدارانو افغانستان د مسکو او کرېملېن له سياستونو لوړ باله. همدارنگه د اخوان المسلين طرفدارانو يا په بله اصطلاح د کمونيست گوند مقابله کوونکو د مصر الازهر څخه الهام اخيستونکو لوبغاړو د عربي سياست څخه په لوړه کچه خپل سياست تمېثلاوه. د نړۍ د سياسي ايډيالوژيو په منظر کې حتی د کمونېست گوند مرکز، چې مسکو دی، د افغانستان په برخليک اخته نه شو. همدارنگه د اخواني سياسي ايډيالوژۍ مرکز قاهره د خپلې ايډيالوژۍ په تميثل کې د افغانستان په سرنوشت اخته نه شوه. په سياسي نړيوالو جگړو کې د ايډيالوژيو اختلاف او ټکر يو طبيعي عمل دی، چې له پخوا راهيسې په نړيواله سياسي مستوي کې شته، خو په افغانستان کې د ايډيالوژيو د تمثيلوونکو تقابل يو بل ته په دايمي دښمنۍ واوښت. دوی د ايډيالوژۍ د تطبيق پر ځای انساني دښمنۍ ته اړ شول. د ايډيالوژيک اختلاف او تقابل پر ځای يې خپل وطن د نورو لپاره په کنډوالو بدل کړ. دوه طرفه (کمونېست او اخوان) په خپل ايډيالوژک تقابل کې څلوېښت کاله وجنگېدل.

د افغانستان په روانه جگړه کې د سيمې پر هېوادونو سربېره د نړۍ لوی قدرتونه هم ښکېل شول. څه د پاسه پنځه لکه افغانان له تېرو لسو کالو راهيسې د دې جگړې قربانيان دي. اوسمهال، طالبان چې د جگړې اصلي لوری دی، غواړي په خپل ټول قوت سره امريکا او ورسره مل راغلي هېوادونه ونگوي، څو افغانستان د نويمې لسيزې په شان يو ځل بيا دوی ته د سياست ميدان پاتې شي. دا بايد ومنو چې طالبان د دغه هېواد بچيان دي. هغه څه چې طالبانو او د طالب په نوم کومه روانه جگړه توده ساتل شوې ده، ښه تعامل نه و. طالبان بايد د سياسي پروسې برخه اوسي، خو که د افغانستان د جگړې روان وضعيت ته وگورو طالبان تر بهرنيو ځواکونو د جنايت په تقصير کې موازي حرکت کوي. که د طالبانو جگړه له بهرنيانو سره وي، خو د جگړې بيه افغانان پرې کوي، نه بهرنيان. که طالبان له بهرنيانو سره د افغانستان د نجات خبره کوي، نو د طالبانو جوړښت هم تر سوال لاندې دی، خو په هر حساب طالبان د دې خاورې بچيان دي او له افغانستان سره د مور او بچي تمه ترې لرو.

له شپاړلس کلنې جگړې وروسته د تېر کال د کوچني اختر په ورځو کې د دولت او طالبانو تر منځ اعلان شوي اوربند وښووده چې د طالبانو او افغان دولت تر منځ د سولې خبرې د کنگل حالت څخه راوتونکې دي. اوربند په شکلي ډول ثابته کړه چې طالبان هم له جگړې ستړي دي او د سولې او مذاکراتو برخه گرځېدای شي. له اوربند د مخه افغان دولت د ولسمشر اشرف غني په مديريت د افغان جگړې د کمزوري کولو لپاره په ملي کچه، سيمه ييزه کچه او بالاخره په نړيواله کچه ستراتېژيک گامونه پورته شول. د تېر ۲۰۱۸ ز کال د فبرورۍ مياشت د کابل پروسې دويم نړيوال کنفرانس کې افغان حکومت له توقع لوړ طالبانو ته په ډېره نرمه توگه د مذاکراتو زمينه مساعده کړه. نوموړي کنفرانس کې افغان ولسمشر په ډېره واضح توگه وويل چې طالبان د سياسي جريان په توگه خپل جوړښت ثابتولی شي، د نړۍ په هر گوټ کې ورته د تگ راتگ او سياحت زمينه مساعدولی شي، د طالبانو شته مالي امکانات له کنگل حالت بايد راويستل، خو چې طالبان له خپل ځان څخه د سولې او مذاکراتو لپاره چمتووالی ونيسي. د کابل پروسې دويم کنفرانس کې طالبان چلېنج شول او د افغان حکومت د ځرگندونو مقابل کې يې هېڅ غبرگون ونه ښود. د طالبانو غلي پاتې کېدل د دې مانا ورکوي چې ممکن طالبان د خپلو مشرانو سره په خبرو اترو بوخت وي، څو د افغان دولت ځرگندونو ته ځواب ومومي.

له دې وروسته افغان دولت په سيمه ييزه کچه د افغان جگړې ختمولو او د جگړې د داعيې کمزوري کولو لپاره ډيپلوماټيکې هڅې پيل کړې. د ۲۰۱۸ ز کال په مارچ کې د ازبکستان په پلازمېنه تاشکند کې د افغان سولې اړوند نړيوال کنفرانس وشو چې پکې افغان جگړه د سيمې د نا امنۍ لامل وگڼل شوه او افغان ولسمشر يو ځل بيا پر طالبانو د خبر او مذاکراتو غږ وکړ. په تعقيب يې د افغان جگړې د مذهبي اړخ له نظره تضعيفولو په خاطر د افغانستان، پاکستان او اندونيزيا هېوادونو علماوو په گډه د افغانستان روانه جگړه ناروا وگڼله او له ښکېلو غاړو يې وغوښتل چې د جگړې او خشونت پر ځای د سولې لاره غوره کړي. له مذهبي اړخه د سعودي عربستان حرمينو ملا امامانو د جون مياشتې د جمعې ورځې خطبې د اهميت وړ دي چې د مکې مکرمې او مدينې منورې ملا امامانو د طالبانو او افغان دولت څخه وغوښتل چې د افغانستان روانې کشالې او جگړې ته د سولې له لارې د پای ټکی کېږدي. په دې مانا چې د افغانستان اوسنۍ جگړه له مذهبي او اسلامي نقطې نظره د جهاد له چوکاټ څخه ووتله او يوازې د بې مانا جگړې تر عنوان لاندې پاتې شوه. د روژې مبارکې مياشتې په دويمه لسيزه کې څه د پاسه درې زره علما د هېواد له بېلابېلو برخو څخه راټول شول او د کابل ښار زړه لويې جرگې خېمه کې يې د روانې جگړې په مذهبي اړخ گډه فتوا صادره کړه چې د افغانستان اوسنۍ روانه جگړه په هېڅ مفهوم د جهاد نوم نه شي اخيستلای. د فتوا اصلي متن د قران او احاديثو څخه جوړ شوی و، د جگړې د زيان او گټو تر منځ په تفکيک د اسلامي ارشاداتو په رڼا کې روانه جگړه باطله او د اسلام ضد جگړه تعريف شوه.

د تېر ۲۰۱۸ ز کال د جولای په ۱۰ او ۱۱ مه د سعودي عربستان جدې ښار کې د اسلامي هېوادونو غړيو نړيوال کنفرانس OIC له لوري چې د اسلامي امت ۳۲ دولتونو پکې گډون کړی و، د افغانستان جگړه و ارزوله او د ا سلامي مقدساتو ضد جگړه يې عنوان کړه. د افغانستان جگړې په تېر شپاړلس کلن تاريخي بهير کې د اسلامي هېوادونو اجماع په لومړي ځل جوړه شوه چې د افغانستان جگړه نفي کړي. ټولو اسلامي هېوادونو د افغانستان جگړه له ديني اړخه مردوده وگڼله او پر طالبانو يې غږ وکړ چې د افغانانو د غوښتنې تر څنگ د اسلامي هېوادونو او اسلامي امت غوښتنه هم همدا ده چې د افغانستان جگړه له اسلامي اړخه مشروعيت نه لري او له هرې ممکنه لارې بايد طالبان د افغان دولت سره د سولې پروسه پر مخ يوسي. د مکې مکرمې کنفرانس د افغان جگړې د ختمولو لپاره يو ستراتېژيک اهميت لري، طالبان او د دوی جنگيالي به د خپلو جگړه ييزو نظرياتو د مشروعيت له خلا سره مخ شي. کله چې د مکې او مدينې امامان، په مصر کې د اسلامي امت د نړيوالې ټولنې مشر دوکتور يوسف قرضاوي او د اسلامي امت نور جيد علما د افغانستان جگړه مردوده گڼي، بې له شکه چې طالبان به د خپلې جگړې د مشروعيت تر ستر سوال لاندې راشي.

پر پاکستان د امريکا، سيمې او نړيوال فشارونه د جگړې د مهارولو لپاره بل اړخ دی چې پاکستان بايد د طالبانو سره پر اړيکو له سره غور وکړي. په خړ لېست کې د دغه هېواد داخلېدل او په نړيواله کچه د پاکستان د دولت نوم د تروريستانو ملاتړ کوونکو لېست ته داخلېدل د پاکستان لپاره د تدريجي مرگ بله مانا نه لري. په ټوله کې د افغانستان د خلکو رواني او ذهني اړخ ډېر مهم دی چې د اوربند په جريان کې ټول ملت په گډه ملي اجماع د سولې او له طالبانو د خبرو اترو غوښتنه وکړه. د سيمې هېوادونه او حتی د امريکا په شمول گڼو هېوادونو د طالبانو او افغان دولت تر منځ اوربند څخه ملاتړ ځرگند چې له دې مخکې د امريکا غوندې هېواد څخه توقع نا ممکنه وه.

په سوله کې د ملت اجماع له هلمند ولايت څخه د سپينږيرو په شمول د بېوزله افغانانو ۷۰۰ کيلو متره زياته فاصله وهل ښکاره بېلگه ده. د ملت اجماع د هغې زړې سپين سرې مور په اوښکو کې ليدل کېږي چې خپل يو زوی يې د طالب تر عنوان لاندې او بل يې د پوليس په نوم قرباني شوی. د ملت اجماع د اوربند په جريان کې له طالبانو سره د دوی د مېلمه پالنې او يو ځای پالنې په ښکاره توگه ځرگندېږي چې دا ملت د سولې څومره تږی دی. د ملت اجماع د هغه پوليس په شونډو کې په ښه توگه ښکاري چې د لسو کالو زياته موده يې د سولې په نوم هره ورځ روژه نيولې. په ټوله کې اوس د افغان دولت لپاره د سولې شته فرصتونه چې رامنځته شوي او موجود دي، د حيات او ممات زېری دی. د امريکا او نورو بهرنيو ځواکونو وتل بايد د سولې پروسې او مذاکرتو برخه وگرځي. که افغان دولت او طالبان د سولې روانو هڅو څخه په سالمه توگه گټه وانه خلي، له دې د زياتو فرصتونو څخه د رامنځته کېدو هڅې خيال او محال دی.

## سيمه ييز چارواکي: په ننگرهار کې د ملکي تلفاتو په اړه د ملي امنيت شورا پرېکړې ته په تمه يو

د ننگرهار ولايتي چارواکو ويلي چې د ملکي تلفاتو په اړه يې د ملي امنيت شورا ته معلومات ورکړي او د پرېکړې په انتظار دي.

دا په داسې حال کې ده چې د ننگرهار په شېرزادو ولسوالۍ کې د شنبې په شپه د ملي امنيت د ادارې د صفر دوه قطعې ځانگړو ځواکونو پر يوه سراچه موټر بريد کړی، چې پنځه ملکيان پکې وژل شوي دي.

د ننگرهار د والي وياند، عطاالله خوگيانی ورمه ورځ ازادي راډيو ته ويلي: «د عملياتو پر مهال يو سراچه موټر په چټکۍ په حرکت کې و او امنيتي ځواکونو شک وربانديې کړی او ډزې يې کړې چې متأسفانه د شېرزادو ولسوالۍ د يوې کورنۍ پنځه غړي، يوه ښځه، يو نارينه او درې ماشومان په کې شهيدان شوي دي».

خوگيانی ويلي چې دولتي چارواکو او د ملي امنيت رياست استازو له هغو خلکو سره چې مړي يې د اعتراض په توگه جلال‌اباد ته راوړي وو، خبرې کړې دي او قناعت يې ورکړی چې مړي خاورو ته وسپاري.

د ننگرهار د والي وياند دغه راز ويلي چې د ملي امنيت شورا به په دې اړه چې ملکي تلفات څرنگه کمېدلای شي، پرېکړه کوي.

خوگيانی زياته کړې چې په ننگرهار کې په دغو پوځي عملياتو کې لس وسله وال طالبان وژل شوي دي.

بلخوا د ملي امنيت شورا يا د ملي امنيت رياست په دې تړاو څه نه دي ويلي.

## د ملي امنيت شورا سلاکار د لوړپوړې حکومتي پلاوي په مشرۍ پاکستان ته ځي

د افغانستان د ملي امنيت سلاکار په مشرۍ يو لوړپوړی پلاوی پاکستان ته سفر کوي.

د ملي امنيت شورا وياند طارق ارين پژواک خبري اژانس ته ويلي، چې د ډاکتر حمدالله مُحب په مشرۍ دغه لوړپوړی پلاوی په رسمي بلنه اسلام اباد ته ځي.

هغه زياته کړې چې د دغه سفر پر مهال به افغان پلاوی له پاکستاني چارواکو سره د سولې، د ترهگرۍ پر ضد پر مبارزې او نورو موضوعاتو خبرې وکړي.

که څه هم ارين په دې اړه نور معلومات نه دي ورکړي، خو يوې بلې سرچينې چې د نوم له ځرگندولو يې ډډه کړې، پژواک ته ويلي چې په دغه يوه ورځني سفر کې پنځه کسان پاکستان ته ځي.

سرچينې زياته کړې چې په پلاوي کې د ملي امنيت له سلاکار حمدالله محب سره د کورنيو چارو وزير مسعود اندرابي، د ملي امنيت شورا مرستيال او دوه نور کسان شامل دي. يادې سرچينې ويلي، له دغه سفر څخه موخه پاکستان ته د ولسمشر اشرف غني د راتلونکي سفر په اړه پر اجنډا خبرې کول دي.

دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان لومړي وزير عمران خان څو ورځې مخکې له ولسمشر اشرف غني سره په يوه ټيليفوني اړيکه کې هغه ته د پاکستان د رسمي سفر بلنه ورکړې وه، چې د ولسمشر له خوا ومنل شوه.

که څه هم تر اوسه د دغه سفر نېټه نه ده په ډاگه شوې، خو ډيپلوماټيکې سرچينې وايي چې دغه سفر به له کوچني اختر وروسته په دويمه اونۍ کې تر سره شي.

سرچينې زياته کړې چې د دغه سفر پر مهال به پر ځينو موضوعاتو د خبرو اترو تر څنگ، پر پنځو تړونونو هم لاسليکونه وشي.



لیکنه: اسماعیل یون

# د پکتیکا ماسټرپلان؛ ژمنې او عملونه

سیاستوال ژمنې کوي او لیکوال لیکنې. سیاستوال تاریخ جوړوي او لیکوال تاریخ لیکي. سیاستوال د تاریخ عملي کرکټر دی او لیکوال یې نظري. اوس نو څه چې سیاستوال کوي او یا یې وایي، لیکوال باید هغه کټ مټ ولیکي او ویې څاري.

له نن څخه پوره شپږ میاشتې او شپږ ویشت ورځې وړاندې د نومبر په (۳)مه، جمهور رییس غني له خپلو نږدې دوو درجنو مشاورینو سره پکتیکا ولایت ته سفر وکړ، ځینو دا سفر یو کمپایني حرکت وباله او ځینو نورو د پکتیکا د خلکو یو ضرورت. زه دلته پر دې بحث نه کوم چې کمپایني حرکت و که یو ضرورت، خو زما له هغو ژمنو سره کار دی چې په دغه سفر کې د جمهور رییس له خوا مطرح شوې وې. جمهور رییس ژمنه وکړه چې پکتیکا ولایت به له درېیمې درجې څخه دویمې درجې ته پورته کوي، د ښوونځیو د ودانیو د جوړونې ستونزه به حلوي، د یاد ولایت د لوړو زده کړو په موسسه کې به یو پوهنځی زیاتوي، د پوهنتون احاطوي دېوال به له ځانګړې بودجې څخه جوړوي او پوهنتون (لوړو زده کړو موسسه) کې به داسې ځانګړې زیاتوي، چې د دغه ولایت د پراختیا لپاره ضروري دي او همدارنګه ځینې نورې ژمنې. خو تر ټولو غټه او اساسي ژمنه دا وه چې په شپږو میاشتو کې به د پکتیکا لپاره یو اساسي ماسټرپلان جوړوي او شپږ میاشتې وروسته به دی خپله راځي او د پکتیکا د ستونزو پر اساسي حل به عملي کار پیلوي. نن چې د مې (۲۶)مه نېټه ده، د جمهور رییس له کړې ژمنې پوره شپږ میاشتې او شپږ ویشت ورځې تېرې شوې دي، له نن څخه شپږ ویشت ورځې دمخه باید جمهور رییس له همغو چارواکو او دوه درجنه مشاورینو سره یو ځل بیا پکتیکا ته سفر کړی وای او خلکو ته یې ویلي وای، چې شپږ میاشتې مخکې چې مې له تاسو سره د ماسټرپلان ژمنه کړې وه، دا دی ماسټرپلان او ((واضح طرحې)) سره یو ځای بېرته راغلم، دا دی د دغه ماسټرپلان عملي برخه سر له همدا اوسه یې پیلوم. نو ولس به خوشاله شوی و او فکر به یې کړی و، چې جمهور رییس یوازې ژمنې نه کوي، عمل هم کوي. اوس خدای(ج) خبر چې جمهور رییس د هغو مشاورینو او سیمه ییزو چارواکو ته به دا سفر، د دغه سفر هغه نېټه او په هغه کې کړې ژمنې ور په یاد وي او که نه؟ هسې نه شي چې هغه خبره رښتیا شي، چې دروغجن حافظه نه لري. جمهور رییس داسې نورې ډېرې ژمنې هم کړې، عملي کول خو یې څه کوې، چې بیا یې یاد ته هم نه راځي. نو دا یادښت مې ځکه ولیک چې جمهور رییس او مشاورینو ته یې خپلې ژمنې ورپه یاد کړم. د هغه لیکوال ژبه دې هم ګونګه شي چې حقیقت ګوري، نه یې وایي او نه یې لیکي. که جمهور رییس د راتلونکې جون میاشتې په بهیر کې هم پکتیکا ته له خپل ماسټرپلان او ((واضح طرحې)) سره لاړ شي، بیا به هم یو غنیمت وي. د دې لیکنې په مقابل کې د کنځلمارو کېدونکې کنځلې دې خپله هغوی ته ډالۍ وي. ما دا لیکنه یوازې د پکتیکا خلکو د حقوقو د اعادې او د جمهور رییس د ژمنو د یادونې لپاره لیکلې ده، نور سیاسي غرض او مرض په کې نشته.

# چخانسوري: په ارګ کې د اخلاقي فساد د ادعاوو په تړاو به پلټنې وشي



ولسمشرۍ ماڼۍ، په ارګ کې د اخلاقي فساد په اړه د یوه پخواني سلاکار حبیب الله احمدزي ادعاوې بې اساسه او دروغ بللې دي او ویلي یې دي چې په دې تړاو به پلټنې وشي.

د ولسمشر غني ویاند هارون چخانسوري تېره ورځ په کابل کې یوه خبري کنفرانس ته وویل، چې په دې اړه به جدي څېړنې وشي.

ارګ پر داسې مهال دغه څرګندونې کوي چې په امنیتي چارو کې د ولسمشر غني پخواني سلاکار حبیب الله احمدزي په دې وروستیو کې په خپلو تازه څرګندونو کې ادعا کړې چې د ښاغلي غني سلاکار فضلي د پارلماني ټاکنو یو شمېر ښځینه نوماندانې چې له ۶۰۰ څخه کمې رایې یې وړې وې، د نامشروع اړیکو له مخې ولسي جرګې ته بریالۍ کړې دي.

خو د ولسمشر غني ویاند هارون چخانسوري د پخواني سلاکار حبیب الله احمدزي د ادعا په اړه وویل: «احمدزي د خپلو شخصي غوښتنو په خاطر دغه درواغ جوړ کړي دي او له دې لارې غواړي د خلکو ذهنیت خراب کړي».

نوموړي زیاته کړې چې دغه موضوع په جدي ډول څېړل کېږي او لویه څارنوالي به له حبیب الله احمدزي څخه د خپلې ادعا په اړه د اسنادو او شواهدو د وړاندې کولو غوښتنه وکړي.

که څه هم تر دې مخکې د افغان حکومت په یو شمېر نورو ادارو کې د اخلاقي فساد په اړه راپورونه ورکړل شوي، خو دا لومړی ځل دی چې پر ارګ د اخلاقي فساد ادعا کېږي.

په ورته وخت کې د ولسمشریزو ټاکنو نوماندانو شورا د یوې خبرپاڼې په خپرولو په ارګ کې د ملي یووالي حکومت د څو اړخیز او جوړ شوي فساد اړوند، د جنرال حبیب‌الله احمدزي «ټکان ورکوونکې او زړورې» څرګندوې ستایلې او لیکلي یې دي: «دغو څرګندونو نه یوازې په هېواد کې زیاتره عمومي افکار اندېښمن کړي، بلکې اړتیا ده چې ولسمشر غني او شریکان یې د ولسي جرګې د ټاکنو د پراخې مهندسۍ، مالي او اخلاقي فساد په اړه ځواب ورکړي».

# حسن روحاني د ایران د اټومي پروګرام په تړاو د ټولپوښتنې غوښتنه کړې ده

د ایران د دولتي خبري اژانس ایرنا د راپور له مخې، د دغه هېواد ولسمشر حسن روحاني ویلي، چې د ایران حکومت د خپل اټومي پروګرام په اړه ټولپوښتنه کولای شي.

روحاني دا څرګندونې په داسې حال کې کوي، چې امریکا له ایران سره د ۲۰۱۵ ز کال له اټومي هوکړې وتلې او پر دغه هېواد یې هغه بندیزونه بیا لګولي، چې د دې هوکړې پر بنسټ لغوه شوي وو.

روحاني ویلي، ده په ۲۰۰۴ ز کال کې هم هغه مهال چې د ایران د لانجمن اټومي پروګرام په خبرو کې ځګپوړی مرکچي و، مذهبي مشر ایت‌الله علي خامنه‌اي ته د ټولپوښتنې وړاندیز کړی و.

دا په داسې حال کې ده چې د ۲۰۱۵ ز کال د ایران او د نړۍ د شپږو قدرتونو ترمنځ د شوې هوکړې له مخې، ایران په هغه کچه د یورانیمو د غني کولو اجازه نه لري، چې د اټومي بم د جوړولو وړتیا ترلاسه کړي.

ایران په داسې حال کې چې له امریکا سره په لویه لانجه کې ښکېل دی، نه یوازې په کور دننه، بلکې د سیمې په کچه هم د ملاتړ د ترلاسه کولو په مقصد یو لړ فعالیتونه پیل کړي دي.

د دغو هڅو په ترڅ کې د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف بغداد ته تللی او د دغه هېواد له چارواکو سره یې خبرې کړې دي.

د عراق د پارلمان مشر محمد حلبوسي پر دولتي ټلوېزیون د وینا پر مهال ویلي، چې که له عراقه غوښتنه وشي، د ایران او امریکا ترمنځ د کړکېچ د حل لپاره منځګړیتوب ته چمتو دی.

د حلبوسي له خبرو څو شېبې وروسته، ظریف د دوه ورځني سفر په موخه بغداد ته ورسېد.

بلخوا د عراق د لومړي وزیر عادل عبدالمهدي له دفتره په خپاره شوي بیان کې راغلي، چې لومړي وزیر او ظریف پر هغو لارو چارو بحث کړی، چې څنګه دغه دوه هېوادونه او سیمه د بندیزونو او احتمالي جګړې له زیانونو څخه په امن کې پاتې شي.

بیان زیاته کړې چې دوی همدا راز د منځنې ختیځ د امنیت او ثبات او د ایران د اټومي موافقې د پر ځای پاتې کېدو په اړه هم خبرې کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې جواد ظریف د جمعې په ورځ پاکستان ته تللی و او هلته یې له لومړي وزیر عمران خان او نورو چارواکو سره کتلي دي.

د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، ظریف په اسلام‌اباد کې د څرګندونو پر مهال پر نړیواله ټولنه غږ کړی، چې د هغه څه پر وړاندې چې ده د ایران پر ضد د امریکا د زور او تشدد چلند وباله، اقدام وکړي.

ظریف وویل، سیمه اوسمهال په کړکېچن حالت کې ده او خطرناک اقدامات پکې روان دي.

هغه زیاته کړې چې ایران د روان کړکېچ د حل لپاره له خپلو ګاونډیانو سره سلامشورو ته اړتیا لري.



## د کتـــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### یوولسم څپرکی
### «ماته» څنگه «بری» کړو؟




بې کوره انسان چې یو ځل ولوېږي، بیا پکې د را پاځېدو قوت نه وي، همالته پاتې کېږي او ورو ورو ډوبېږي. عادي یا د منځنۍ طبقې خلک بیا په گونډو کېږي، دوی هم ودرېدی نه شي، همداسې بیټ روان وي، له سترگو چې فنا شو بیا ځان له دې هلو ځلو خلاصوي چې نور و نه رټل شي.

خو بریالي خلک چې ولوېږي بل ډول غبرگون ښیي، دوی سمدستي ودرېږي، له ماتې درس اخلي، گوزار هېروي او مخکې حرکت کوي.

زما یو ملگری د مدیریت په برخه کې تکړه حقوقي مشاور دی. دفتر ته یې چې ورشئ لکه د ښار د خانانو مالت ته چې ننوتي یئ. ښایسته فرنیچر، ښایسته فرشونه، ډېر مراجعین، مهم پیرودونکي دا ټول د شرکت د مالک بری ښیي.

بدبینه او تنگ نظره خلک ښایي ووایي چې: (دا هر څه به یې په چالاکۍ گټلي وي)، خو داسې نه ده، نه چالاکي پکار ده او نه بخت ... نه په دعا نه په هنر کېږي... دا کار یوازې داسې یو هوډمن او مصمم انسان غواړي چې ماتې و نه مني.

په دې ځای کې داسې سړي کار کاوه چې د خپل پرمختگ لپاره یې ډېرې هلې ځلې کړې دي. د خپلو لسو کالو سپما یې شپږو میاشتو کې وبایلله. د کور کرایه یې نه درلوده، څو میاشتې په شرکت کې پروت و. د دندو څو وړاندیزونه یې رد کړل، ځکه خپلې مفکورې یې لرلې، په هماغو یې کار کاوه. د ده خدمتونو ته پیرودونکو یو ځل (ښه) او سل ځل (نه) کړې. اووه کاله یې ډېر زیات سخت؛ خو بریالي وو، ده پکې هېڅ گیله و نه کړه. ماته به یې تل ویل: (ډېوډه زده کوم، په دې کار کې سیالي سخته ده، پرمختگ پکې ورو دی، خو زه یې چل زده کوم.) او اخر یې زده کړ.

یوه ورځ مې ورته وویل چې دې تجربو کې به تاوان وکړې، راته وویل: (نه تاوان په کې نه کوم، زده کړه پکې کوم!) تاسې د لویو خلکو تاریخونه وگورئ، زیاتره یې له ډېرو سختو تېر شوي دي:

ذرې ذرې شي چې رڼا ته رسي لمر ته رسي
ستورې د سختو نه تېرېږي چې سحر ته رسي
(صابر) ژ

هر څوک چې بریالی شوی له پرېمانه مخالفتونو، نهیلیو، خنډونو او بدبینینو سره مخ شوی دی.

د لویو خلکو ژوندلیکونه (اتوبیوگرافۍ) ولولئ، وبه گورئ چې دوی هر یو په زرگونه ځله د ستونزو او کړاونو مخ ته وسله غورځولای شوه. بل کار هم کولای شئ، د خپل شرکت د رئیس یا ستاسې په نظر د بل بریالي کس ژوند وگورئ. که یې د ژوند په ټولو اړخونو پوه شئ، نو وبه گورئ چې له ډېرو سختو او ستغو راتېر شوی دی.

بې له سختو، خنډونو او مخالفتو لویو موقفونو ته رسېدل سخت وي، خو له دې خنډونو د خپلو موخو لپاره کار اخیستی شو، څنگه؟ وبه یې گورو:

څه وخت مخکې مې د هوایي شرکتونو یو راپور لوست، پکې راغلي وو چې په لس میلیارده میله پرواز کې د یوه کس د مړینې خطر شته. نن سبا هوایي سفرونه ډېر خوندي دي. له بده مرغه هوایي پېښې اوس هم کېږي، خو پېښه چې څنگه وشي مسئولین دستي ځای ته رسېږي او لامل یې پیدا کوي. ځینې مامورین د الوتکو اوسپنې له زرگونه میله لرې واټه راوړي او سره نښلوي یې. د کارپوهانو یوه ډله دا گوري چې احتمالاً څه شوي وو. له شاهدانو او قربانیانو سره مرکې کوي. دا څېړنې او گروېږنې اونۍ، میاشتې او ان کلونه وخت نیسي، تر دې چې دا پوښتنه ځواب شي : (چې پېښه ولې رامنځته شوې وه؟)

بیا چې دا پوښتنه څنگه ځواب شوه، دستي د ورته پېښې د مخنیوي لپاره اقدام کېږي. که د پېښې لامل مسلکي ستونزه وي، هغه حل کېږي. په الوتکه کې سلگونه امنیتي شیان د همدې څېړنو په برکت رامنځته شوي دي.

هوایي شرکتونه او سازمانونه دا خنډونه او نیمگړتیاوې مطالعه کوي چې هوایي سفرونه لا ډېر خوندي کړي او د دوی هڅې گټورې هم دي.

ډاکټران هم له خنډونو د انساني روغتیا د ساتنې لپاره کار اخلي. انسان چې د نامعلوم علت له امله مړ شي، نو پر مړي یې څېړنې کوي او د مړینې لامل یې معلوموي. په دې توگه د انساني بدن په اړه لا ډېر معلومات پیدا کوي او د ډېرو خلکو ژوند ژغوري.

زما یو ملگری د خرڅلاو مدیر دی، په میاشت کې یوه جلسه یوازې له خپلو پلورونکو سره د خبرو لپاره کوي. دی غواړي د هغوی له خولې پوه شي چې خرڅلاو د کوم لامل له مخې کم شوی دی. د دوی له لاسه چې کومه سودا وتې، هغه تحلیلوي او په دقیق ډول یې ارزوي. په دې توگه پلورونکي پوهېږي چې بل ځل د بریالۍ سودا لپاره څه وکړي.

د کرکټ روزونکي له خپلو لوبډلو سره یو ځای لوبې دقیقې گوري، د نړۍ د لویو لوبغاړو د قوت او ضعف ټکي گوري او خپلو لوبغاړو ته یې ښیي. همدارنگه د دوی د ناسمې لوبې فلمونه ورته چالانوي او تېروتنې یې ور ښیي، چې خپله له راتلونکو تېروتنو ځان وساتي او د نورو لوبغاړو له تېروتنو گټه واخلي. د دې ټولو موخه راتلونکې ښه لوبه ده.

د هوایي شرکتونو کارکوونکي، بریالي مدیران، ډاکټران او روزنکي ټول د بري لپاره له یوه گډ اصله کار اخلي او هغه دا دی: دوی چې په لاره له هرې ستونزې او خنډ سره مخ کېږي، له هغه یو سبق زده کوي. موږ چې په کومه قضیه کې درد وینو یا ضربه وخورو، نو زیاتره وخت لومړیو کې احساساتي کېږو او تجربه یې نه شو گڼلای.

**دوام لري...**

# ارمنستان

حشمت الله نوري

ارمنستان د قفقاز هېوادونو په ډله کې د اسیا په جنوب لوېدیځه برخه او د ترکیې په ختیځ کې د شمالي عرض البلدونو له ۳۸ تر ۴۱ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۴۲ او ۴۶ درجو ترمنځ موقعیت لري، چې ټولټال یې پراخوالی ۱۱۴۸۴ میل مربع ته رسېږي.

ارمنستان شمال ته له گرجستان، جنوب ته له ایران، ختیځ ته له اذاربایجان او لوېدیځ ته د ترکیې له جمهوریت سره گډه پوله لري.

ارمنستان د کمکي قفقاز په غرونو کې د سمندر له سطحې څخه لوړ هېواد دی، چې وچ او غرنی اقلیم لري. اوړی یې تود او ژمی یې بیا سوړ او واورین دی. په عمومي توگه دغه هېواد د اسیا له سړو هېوادونو څخه بلل کېږي.

ارمنستان د پخواني شوروي اتحاد تر ټولو کوچنی جمهوریت او په وچه پورې تړلی هېواد دی، چې له اوبو سره هېڅ تړاو نه لري. دغه هېواد د اسیا او اروپا په پوله پروت دی او ځینې جغرافیایي منابع یې اروپایي هېواد بولي.

د دغه هېواد پلازمېنه ایروان ښار او ټولټال ۳۰ میلیونه نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۱۱۰ کسان ژوند کوي.

د ارمنستان ۷۵ سلنه وگړي په ښارونو او پاتې ۲۵ سلنه یې په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دوو ماشومانو د درلودو حق لري.

داداري وېش له پلوه دغه هېواد په یوولسو ولایتونو وېشل شوی دی. زولتا، دیلیزان، کیروف اباد، کوواکان، استپانا، کرت او گیومري د ارمنستان مهم ښارونه دي.

د ارمنستان رسمي ژبه ارمني او لیکدود یې روسي دی.

دغه هېواد تر ۱۹۹۱ ز کال پورې د شوروي سوسیالیستي جماهیرو یو وړوکی کورواکه جمهوریت و. له خپلواکۍ وروسته د ارمنستان نوی اساسي قانون د ۱۹۹۵ ز کال د جولای د پنځمې نېټې په ملي ریفرنډم کې تصویب شو. د دغه هېواد اوسنی ولسمشر ارمن سارگسیان او لومړی وزیر یې نیگول دی.

د دغه هېواد ولسمشر د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي. د ارمنستان لومړی وزیر د ولسمشر لهخوا او د کابینې وزیران د لومړي وزیر لهخوا ټاکل کېږي. د دغه هېواد لومړی وزیر او وزیران هغه وخت له خپلو دندو استعفا کوي، چې د دوی پروگرام د ارمنستان د ولسي جرگې لهخوا ونه منل شي.

د ارمنستان ولسي جرگه ۱۳۱ غړي لري، چې ۹۰ یې د گوندونو لهخوا او ۴۱ د خلکو په مستقیمو رایو ټاکل کېږي او د څلور کلونو لپاره کار کولای شي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.

د ارمنستان حقوقي نظام پر مدني قانون ولاړ دی. د دغه هېواد تر ټولو لوړ قضایي ارگان ستره محکمه ده.

د ارمنستان ملي غورځنگ، ملي ولسواک گوند، د ارمنستان کمونست گوند، انقلابي ټولنه او د ارمنستان لیبرال ولسواک گوند د دغه هېواد تر مهم او نفوذ لرونکي گوندونه دي.

ارمنستان د پخواني شوروي اتحاد په مرکزي اقتصادي سیسټم کې د صنعتي تولیداتو پرمختللی سکټور درلود. هغه وخت له ارمنستان څخه د اومو صنعتي موادو او انرژۍ په عوض کې د شوروي اتحاد نورو جمهوریتونو ته ماشینونه، د ماشین الاتو پرزې، ټوکران او نور استهلاکي جوړ شوي مالونه ورکول کېدل. د شوروي اتحاد له ړنگېدو وروسته، ارمنستان د خپلې کرنې سکټور پراختیا ته هڅه وکړه او د شوروي د واکمنۍ او اقتصادي تگلارو د سترو کرنیزو صنعتي پروژو پر ځای یې، د کرنې کوچنیو فارمونو ته مخه کړه. ارمنستان خوراکي مواد واردوي او د سرو زرو، مسو او بوکسایت کوچنۍ زېرمې لري. په نوییمه لسیزه کې د دغه هېواد اقتصادي سیسټم مات شو او له بلې خوا له گاونډي جمهوریت اذربایجان سره د ناگورنو قره باغ لانجې او جگړې دغه هېواد ته ډېر مالي او ځاني زیانونه ورسول.

په ۱۹۹۴ ز کال کې د ارمنستان حکومت د نړیوال بانگ په مرسته، یو اقتصادي پروگرام پیل کړ، چې تر ۱۹۹۸ ز کال پورې یې د پراختیا او پرمختیا گټورې نتیجې درلودې، چې تر ۲۰۰۳ ز کال پورې یې رغنده برخه واخیسته او په همدغه کال کې یې د نړیوال تجارت د ټولنې غړیتوب هم تر لاسه کړ.

دغه هېواد همدا شان هڅه وکړه، چې د انفلسیون اندازه کمه کړي، د ملي پیسو بیه ثابته وساتي او کوچني او منځني دولتي شرکتونه او تصدۍ گانې خصوصي سکټور ته پرېږدي.

په دې وروستیو کلونو کې ارمنستان په میتسامور کې د اټومي انرژۍ یوه کارخانه جوړه کړه، دغه پرمختگ یاد هېواد ته لار هواره کړه چې دې انرژۍ د لړوالي لویه ستونزه یوڅه حل کړي. نړیوال پر ارمنستان فشار راوړي چې د میتسامور بټۍ بنده کړي، خو دغه هېواد دې بټۍ ته د ډېرې اړتیا له مخې، د نړیوالو غوښتنې ته ډېر پام نه کوي او هڅه کوي چې د نړیوالو تخنیکي غوښتنو ته مثبت ځواب پیدا کړي.

د الماسو پروسس، د فلزاتو د پرې کولو ماشینونه او پرزې، د فلزاتو د ویلې کولو او پروسس ماشینونه، برېښنایي ماشینونه، د جامو وینځلو ماشینونه، لارۍ، موټر، ساعتونه، ټایر، اوبدلې جامې، بوټونه، وربښمین او عادي ټوکران، کیمیاوي مواد، گاڼې، د کمپیوټر پروگرامونه، خوراکي مواد او استهلاکي توکي د دغه هېواد مهم صنعتي فکټورونه دي.

د ارمنستان ۲۰ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، ۲۴ سلنه یې څړځایونو نیولې، ۱۵ سلنه یې ځنگلونو او پاتې نوره غرونو بیدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوگنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د دغه هېواد ۵۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۲۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راځي.

غنم، وربشې، لرگي، میوې، سابه، غوښه، لبنیات، هگۍ او وابښه د دغه هېواد مهم کرنیز محصولات بلل کېږي.

اوسپنه، د ډېرو سکاره، سره زر، بوکسایت، مس، جسټ، المونیم او تزیني ډېرې د ارمنستان مهم کانونه دي. د دغه هېواد د صادراتو ټوله بیه څه باندې یو بلیون ډالرو او د وارداتو بیه یې څه کم څلورو بلیون ډالرو ته رسېږي.

د ارمنستان غټ تجارتي شریکان روسیه، چین، ایران، جرمني، ترکیه او اوکراین دي.

دغه هېواد ۱۳ هوایي ډگرونه لري چې لس یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.

د دغه هېواد د ټیلیفون کود ۰۰۳۷۴ او د انټرنټ کود یې بیا AM دی، چې ټولټال یې څلور سوه زره کسان ورته لاسرسی لري.

په ارمنستان کې درې عامه او ۵۰ خصوصي ټلوېزیونونه او ۳۰ راډیوگانې شته، چې په مختلفو ژبو خپرونې کوي.

دغه هېواد د سړې سړکلنۍ عاید له پلوه، د اسیا او نړۍ له منځنیو هېوادونو نه شمېرل کېږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلنو پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهېږي. زده کړه په ارمنستان کې له ۷-۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري ده.

ارمنیان له پخوانیو هندو اروپایي قومونو سره تړاو لري، په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د ارمنیانو نوم په هغه ډبرلیک کې راغلی، چې له میلاد څخه شپږ پېړۍ مخکې په میخې لیک کې، چې د لومړي داریوش له وخت سره اړیکه لري. ځینې لرغوني توکي دا لرغونتوب وړاندې بیایي او د ارمنیانو تاریخ له میلاد څخه مخکې نهمې پېړۍ ته رسوي. له هخامنشیانو څخه مخکې د اوسني ارمنستان خاوره د ماد په سترواکۍ پورې اړه درلوده. بیا د هخامنشیانو د سترواکۍ یوه برخه شوه، خو کله چې مقدوني سکندر د هخامنشیانو واکمني نسکوره کړه، د ارمنیانو سیمه خپلواکه شوه. له دې وروسته دغه سیمه د سلواکیانو لاس ته ورغله، بیا بېرته خپلواکه شوه، د دې خپلواکۍ مشر آرتاشس نومېده. د لوی تیگران په وخت کې ټولې هغه سیمې سره یو ځای شوې، چې خلکو یې په ارمني ژبه خبرې کولې. د ا نوی هېواد د مدیترانې، کسپین او تور سمندرگي تر منځ پروت و. وروسته د ارمنیانو هېواد د روم د سترواکۍ د پوځونو پر وړاندې ماته وخوړه. د دوی د برم وختونه تېر شول او هېواد یې د رومنیانو او اشکانیانو د سترواکیو تر منځ کلابنده شو. ارمنستان په ۱۱مه میلادي پېړۍ کال کې د اشکانیانو لاسبري ومنله.

د ارمنستان خلک په ۳۰۱ ز کال کې مسیحیان شول او په ۴۰۵ ز کال کې د ارمني ژبې الفبا جوړه شوه. د څلورمې میلادي پېړۍ په پای کې ارمنستان د پارس او روم د سترواکیو تر منځ ووېشل شو او په ۶۵۵ ز کال کې د اعرابو لاس ته ورغی. دغه هېواد د اعرابو د واکمنۍ په موده کې کرار نه و او وخت ناوخت به بغاوتونه په کې کېدل. تر دې چې د عباسي خلیفه متوکل په وخت کې ارمني د ارمنستان د والي په توگه وټاکل شو.

ارمنستان هغه خاوره چې تزارې روسیې له عثمانیانو نیولې وه، بېرته ترکانو ته وسپارله، خو عثمانیانو د ارمنستان ټوله خاوره غوښته. روسیې د ارمنیانو له دې غوښتنې سره په کلکه مخالفت وکړ او د ۱۹۱۸ ز کال د مې په ۲۸مه یې خپله خپلواکي اعلان کړه او په دې توگه په اوسني تاریخ کې د لومړي ځل لپاره ارمني دولت رامنځ ته شو. له دې وروسته ځینو اروپایي هېوادونو ارمنستان د یو خپلواک هېواد په توگه په رسمیت وپېژندلو، خو شوروي دغه سیمه په ځان پورې وتړله او د ارمنیانو خپلواکي ورو ورو د خلکو هېره شوه.

په ارمنستان کې مېشتو وگړو د هغې ټولپوښتنې تابیا وکړه، چې خلکو د خپل هېواد د خپلواکۍ لپاره رایه ورکړې وه. ۱۹۹۱ ز کال د سپټمبر په ۲۱مه او ارمنستان د همدغه کال د اکتوبر په شمله خپله خپلواکي اعلان کړه، چې په ۱۹۹۶ ز کال په ټاکنو کې لیونتر پتروسیان بریالی شو.

د شوروي سوسیالیستي جماهیرو په وخت کې ارمنستان د دغه هېواد یو جمهوریت و او له افغانستان سره یې سیاسي اړیکې نه درلودې. اوس افغانستان او ارمنستان نا استوگنې سفارتي اړیکې لري او په مسکو کې د افغانستان سفارت په ارمنستان کې د افغانستان استازیتوب کوي.

د کابل او ایروان ښارونو تر منځ د وخت توپیر ۳۰ دقیقې او د هو له لارې واټن بیا ۲۱۲۲ کیلومتره دی.



همیانی

# څه وکړو څو یو ارزانه سفر ولرو؟

حمیدالله حمیدي

په سفر تلل او له بېلابېلو ځایونو څخه لیدنه د انسان په تجربو کې زیاتوالی راولي او په هر اړخیزه توګه یې فکر ژور بدلون کوي. ځکه سفر کول د دې لامل کېږي، چې تاسو نوي ځایونه وګورئ، له نویو خلکو سره وپېژنئ او اړیکه ور سره ټینګه کړئ، فکر مو بدل کړئ او خپل ورځني تکراري ژوند کې یو څه بدلون راولئ. دغه څه په ژوند کې ډېر مهم دي. خو څه وکړو چې هم نورو ځایونو ته سفر وکړو او هم راته ارزانه پرېوځي. کېدای شي کله چې په ټولنیزو شبکو کې د خلکو عکسونه ګورئ، چې د نړۍ ګوټ ګوټ ته سفر کوي او له ژوند څخه خوند اخلي، فکر کوئ دوی ټول بډای خلک دي؟ نه! دوی ټول شتمن نه دي. ځینو یې خپل فکر په کار اچولی او داسې ځایونو او کارونو ته یې لومړیتوب ورکړی دی، چې سفر کول ورته ارزانه تمام شي.

**۱- له تخفیف لرونکو او وړیا ورځو ګټه واخلئ**

هغه فکر چې تل تاسو ته ګټه رسوي، هغه له داسې سوداګریزو مرکزونو څخه لیدنه کول دي، چې په ځینو ځانګړو ورځو کې تخفیف په کې اعلانېږي او یا له داسې ځایونو څخه لیدنه چې سیل یې لګښت نه لري. هڅه وکړئ سفر مو داسې تنظیم کړئ، چې په هغه هېواد کې دغه ډول ورځې له لاسه ورنه کړئ. دغه معلومات کولی شئ له اړوندو وېبپاڼو په لاس راوړئ.

**۲- د هغه ځای له اوسېدونکو سره په اړیکه کې شئ**

هغه هېواد ته چې تاسو غواړئ سفر ورته وکړئ، کولی شئ دوستان او ملګري په کې پیدا کړئ، ځکه له هغوی سره اوسېدل درته ارزانه تمامېږي او کولی شئ هغه پیسې چې تاسو یې باید په هوټل کې ورکړئ، پر نورو د خوښې وړ کارونو باندې ولګوئ.

**۳- په لرو ځایونو کې ډېر وخت تېر کړئ**

د دې پر ځای چې په دوو اونیو کې ټوله اروپا وګورئ، ښه ده چې یو څه زیات وخت په یوه ځانګړي ځای کې تېر کړئ او له هرې برخې یې ښه خوند واخلئ. په الوتکو، ګاډیو او یا هم بس موټرونو کې سفر کول کېدای شي ګران درته پرېوځي او جېب مو ژر خالي شي، نو ښه ده چې په یوه ځای کې ډېر وخت تېر کړئ او له هغو سیمو یې خوند واخلئ، چې لیدل یې وړیا دي او یا هم لږ لګښت غواړي.

**۴- د الوت ټکټونه په مناسب وخت او یا هم له سفره وړاندې واخلئ**

که وتوانېږئ چې سفر مو داسې تنظیم کړئ، چې په هغه وخت کې د الوتکې پروازونه ارزانه وي او یا یې هم یوه میاشت مخکې له حرکت څخه واخلئ، نو ډېرې پیسې به مو سپما کړې وي. کولی شئ دغه بیې د ټکټ د خرڅلاو په انلاین پلورنځیو کې سره پرتله کړئ او یا داسې پرواز وي، چې ارزانه وي. ځینې الوتکې د شپې ناوخته حرکت کوي او یا دا چې یوه ځای ته له بېلابېلو لارو په څو الوتکو کې ځي، نو نرخونه یې تر ډېره کم وي.

**۵- ټکټونه په مستقیم ډول له هوایي شرکتونو وپېرئ**

له هغه وروسته چې د ټکټونو په اړه مو انلاین معلومات تر لاسه کړل، د هوایي شرکتونو د انلاین ټکټ خرڅلاو مرکزونو ته ورشئ او په مستقیم ډول ترې ټکټ واخلئ، ځکه هغه شرکتونه چې د پرواز ټکټونه پلوري، ارو مرو یې بیې له اصلي ځای څخه لوړې وي.

**٦- په هوټل کې له یوې شپې زیات پاتې شئ**

ډېری هوټلونه د هغو کسانو لپاره چې له یوې شپې ډېر په هوټل کې پاتې کېږي، د مسافرو لپاره ښه تخفیفونه په پام کې لري. په دې اړه هم کولی شئ بیې په وېبپاڼو کې سره پرتله کړئ او له هغه وروسته ګام پورته کړئ.

**۷- له هوټلونو سره مخامخ په اړیکه کې شئ**

ډېر کله په وروستۍ اړیکه هم د هوټل څښتنان مسافرو ته تخفیف ورکوي. دوی هېڅکله هم نه غواړي چې یوه کوټه یې هم تشه پاتې شي.

**۸- کور یا اپارتمان کرایه کړئ**

هغه کسان چې له ټولې کورنۍ سره یو ځای په سفر ځي او تر ډېره یې بیا پخلنځي ته هم اړتیا پیدا کېږي، نو ښه خبره دا ده چې د ځان لپاره کور یا اپارتمان کرایه کړي. په دې ډول به مو ډېرې پیسې سپما کړې وي.

**۹- د سیل او چکر له ځایه لرې خواړه وخورئ**

دا په ټوله نړۍ کې دود دی، په هغو ځایونو کې خوراکي توکي ډېر ګران دي، کوم چې د سیل او چکر لپاره نږدې دي. ښه خبره دا ده چې له دغو ځایونو یو یا دوه کوڅې هاخوا ولاړ شئ او د خپلې خوښې وړ خواړه په ارزانه بیه وخورئ. که مو د ځان لپاره اپارتمان نیولی وي، نو ښه خبره ده چې خواړه خپله پاخه کړئ او یا یې له ښاره در سره یوسئ.

**۱۰- بانکي کارت مو مه در سره وړئ**

سفر ته په کتو ټاکلې اندازه پیسې در سره یوسئ. د پېر په وخت کې چنې ارو مرو ووهئ، ځکه چنې وهل لکه د افغانستان په څېر په ډېرو هېوادونو کې دود دي. که تاسو له ځان سره بانکي کارت یوسئ، کېدای شي ډېر داسې شیان مو خوښ شي، چې ورته اړتیا نه لرئ، نو که مو کارت در سره وي، کېدای شي ورته ټېنګ نه شئ. ځکه کله چې په فزیکي ډول یو څوک پیسې مصرفوي، زړه یې پرې سوزي، خو د بانکي کارت له لارې د شیانو اخیستل ورته هسې خیالي کار ښکاري، چې کېدای شي بیا پرې پښېمانه شي.

## جرمني: هڅه کوو چې افغان حکومت او طالبان په خپلو کې خبرو ته کېنوو

په داسې حال کې چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې مذاکرات روان دي، جرمني وېلي، هڅه کوي چې د افغانستان د سولې په بهیر کې خپل رغنده رول ولوبوي.

د افغانستان لپاره د جرمني ځانګړي استازي مارکوز پوټسل یوازې تېره میاشت دوه ځلې په قطر کې له طالب چارواکو سره لیدلي او د افغانستان د سولې د بهیر په اړه یې ورسره خبرې کړې دي.

نوموړي په کابل کې هم له افغان چارواکو سره پر سولې او بیا پخلاینې خبرې کړې دي، خو له طالبانو او افغان حکومت سره د پوټسل د خبرو ډېر جزیات نه دي رسنیز شوي.

پوټسل رویټرز خبري اژانس ته وېلي: «په افغانستان کې د سولې پر لوري روان اوسنی فرصت باید ضایع نشي. که د افغانستان ملګري، چې جرمني هم پکې دی، په دغه برخه ګډه مرسته کولای شي، باید یې وکړو. خو په پای کې د طالبانو په ګډون خپله افغانان به د خپل هېواد پر اینده تصمیم نیسي.»

په همدې حال کې رویټرز خبري اژانس د جرمني د یو بل چارواکي له خولې لیکلي، که د طالبانو مشران له افغان حکومت سره خبرو ته کېني، د سولې بهیر لا ګړندی کېدای شي.

د افغانستان لپاره د جرمني استازي داسې مهال د افغان سولې پر هڅو غږېږي چې په قطر کې د طالبانو ویاند سهیل شاهین وېلي چې جرمني هم د افغان سولې په برخه کې د مرستو وړاندیز کړی دی.

هغه وېلي چې د جرمني استازو له طالب مشرانو سره لیدلي، خو لا کومې پرېکړې ته نه دي رسېدلي.

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان لپاره د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او طالب مشرانو ترمنځ د مذاکراتو شپږم پړاو څه موده مخکې پای ته ورسېد. ویل کېږي چې په دغو خبرو کې پرمختګ شوی، خو کومه پرېکړه نه ده شوې.

د سولې په خبرو کې د جرمني د ښکېلتیا یو بل دلیل دا هم بلل کېږي چې دغه هېواد له طالبانو سره د خبرو په بهیر کې څنګ ته کړل شوی.

جرمني له افغانستان سره دویم لوی مرستندوی هېواد بلل کېږي او د ناټو غړی دی.

ټاکل شوې چې د جرمني پارلمان بل کال په دې اړه رایه ورکړي چې ولې د هغوی سرتېري په افغانستان کې پاتې شي. د یادونې ده چې جرمني اوسمهال د غوڅ ملاتړماموریت په چوکاټ کې ۱۲۰۰ سرتېري لري چې په بلخ کې مېشت دي.

## یوناما: له بندیانو سره د طالبانو ناوړه چلند اندېښمن کړي یو

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولۍ یا یوناما په یوه تازه رپوټ کې ویلي، طالبانو په خپلو زندانونو کې له بندیانو سره ناوړه چلند کړی دی.

یوناما ویلي، د بندیانو له خوا داسې ادعاوې شوې چې د طالبانو په زندانونو کې ربړول شوي او په ځینو حالاتو کې زندانیان وژل شوي هم دي.

په دغه راپور کې ویل شوي، چې زندانیان په بدو شرایطو کې ساتل شوي او اجباري کارونو ته اړ ایستل کېږي.

د ملګرو ملتونو په دغه راپور کې راغلي، د ۲۰۱۹ ز کال د اپریل په ۲۵مه دوی د ملي اردو له هغو ۱۳ را خوشې شویو زندانیانو سره، چې د طالبانو په زندان کې وو، د مرکو پر بنسټ موندلي، چې د اروزګان ولایت د طالبانو په توقیف کې له زندانیانو سره ناسم چلند کېده، ځورول کېدل او ان د ملکي او امنیتي کسانو د وژلو په اړه یې باوري ادعاوې وړاندې کړې دي.

راپور زیاته کړې، په خاص اروزګان کې ځینې کسان له طالبانو سره له ۲۰۱٦ ز کال راهیسې بندیان دي. د یوناما دغه راپور وایي، د طالبانو له خوا څو تنو ازادو شویو کسانو دوی ته د یوولسو کسانو د مړینې خبره هم کړې ده.

د راپور د معلوماتو له مخې، راخلاصو شویو کسانو ویلي چې لږ تر لږه په ورځ کې اووه ساعته پرې د چاودېدونکو توکو د جوړولو په ګډون، زورور کارونه کېدل او په ځمکې کې تر صفر ټیټې کچې یخنۍ کې ساتل کېدل.

خو د طالبانو له خوا رسنیو ته په یوه استول شوي پیغام کې د یوناما له خوا دغه خپور شوی راپور په کلکه رد شوی او دا راپور یې یو اړخیز بللی، چې په خبره یې د بندیانو د ربړونې په اړه د یوناما راپور مغرضانه او له حقیقت څخه لرې دی.

د طالبانو د بندیانو اړوند کمېسیون بي بي سي ته ویلي، چې د افغان حکومت شاوخوا دری زره کسان له دوی سره بندیان دي، چې د حکومت پلوو په ګډون زیاته برخه یې د ملي اردو سرتېري او پولیس جوړوي.

دغه کمېسیون همدا راز ویلي چې له حکومت سره شاوخوا ۹۰۰۰ طالبان بندیان دي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي او همدا راز د یوناما مشر تدامیچي یاماموتو ویلي: «زه په توقیف خونو کې د ناسم چلند، شکنجه کولو او همدا شان د ملکي او امنیتي کارکوونکو د غیر قانوني وژنو او همدار راز په توقیف خونو کې د ناسم وضعیت په تړاو د لګول شویو جدي ادعاوو په اړه اندېښمن یم».

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,٦۵ |
| € | ۸۰ |
| Rp. | ۵۳۸ |
| ₹ | ۱۱۳۰ |
| ¥ | ۱۱,٤۰ |
| £ | ۱۰۱ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



المبارک

توریستي شرکت




المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

flydubai

TURKISH AIRLINES

Emirates

ARIANA

0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55

کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



دوشنبه د ۱۳۹۸ د غبرګولي شپږمه | د ۲۰۱۹ د مي ۲۷مه | درېیم کال | ۳۸۰یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


دوشنبه ۱۳۹۸/۳/٦

د سهار اذان ۰۳:۰۲ د ماښام اذان ۰۷:۰۱

رمضان کریم

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۷ | ۳٤ | ۳۷ | ۳٤ | ۳۷ | ۲۷ |
| ۱۲ | ۱٦ | ۱۹ | ۱۷ | ۲۰ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۲ | لمر ختل ۰٤:٤٤ | ماسپښین ۱۱:۵۱ | مازیګر ۰۳:۳۷ | ماښام ۰۷:۰۱ | ماخوستن ۰۸:۳۹

## نړۍ



# حسن روحاني د ایران د اټومي پروګرام په تړاو د ټولپوښتنې غوښتنه کړې ده

۳

## مسلمیار: وزارت داخله، نباید قضیهٔ گرفتاری حاجی دلاور را به مشرانوجرگه ربط دهد



رئیس مشرانو جرگه، وزارت داخله را به اظهارات غیرمسئولانه در قضیهٔ گرفتاری مشاور اسبق مشرانو جرگه متهم کرده و گفته است که جرم عمل فردی است و وزارت داخله، نباید آن را به آدرس این جرگه ربط دهد.

این در حالی‌است که وزارت امور داخله جمعهٔ گذشته (سوم جوزا) حاجی دلاور مشاور پیشین رئیس مشرانو جرگه را با تعدادی از اسناد جعلی، سلاح های غیر قانونی و یک واسطهٔ زرهی، به اتهام حمایت از «تروریستان» بازداشت نمود.

نصرت رحیمی سخنگوی وزارت امور داخله، در همان روز در صفحه فیسبوک خود نوشته است: «سال قبل نیروهای امنیتی در شهر جلال آباد، واسطه لندکروزر حاجی دلاور را در یکی از چک پاینت‌ها ایستاد می کند و فلم سیاه شیشه های موتر آنرا پاک می کند و فردای همان روز، بالای همان سرباز که شیشه های موتر حاجی دلاور را پاک کرده بود، انفجار می شود که متأسفانه این سرباز دلیر شهید می شود و چند تن دیگر نیز شهید و زخمی می شوند و به اساس اطلاعات مؤثق ما، این انفجار را خود حاجی دلاور سازماندهی کرده بود». فضل هادی مسلمیار رئیس مشرانو جرگه، در جلسه دیروز جرگه گفته است، قضیه گرفتاری حاجی دلاور که در رسانه ها و شبکه های اجتماعی مطرح می شود، یک زمان به حیث مشاور افتخاری مشرانو جرگه ایفای وظیفه کرده است و مدت شش‌ماه می شود که مشاور نیست و شش‌ماه از میعاد کارت وسایطی که مشرانو جرگه به دلاور داده بود، نیز گذشته است.

وی افزوده است که وزارت امور داخله، غیرمسؤلانه اظهاراتی را در رسانه ها داشته است و در قضیه حاجی دلاور مستقیماً مشرانو جرگه را شریک دانسته است؛ در حالیکه این خلاف قانون است؛ چون جرم یک عمل فردی می باشد.

## ټرمپ: د شمالي کوریا وروستۍ توغندیزې ازموینې بې ارزښته دي




د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ د شمالي کوریا له لوري د توغندیو وروستۍ ازموینې بې ارزښته بللې او ویلي یې دي باور لري، چې د شمالي کوریا مشر کېم جونګ اون به پر خپلو ژمنو عمل وکړي.

ټرمپ چې اوسمهال په جاپان کې دی، په یوه ټوېټ کې لیکلي: «شمالي کوریا ځینې وړې وسلې توغولې چې زه نه، خو زموږ ځینې خلک او نور یې نارامه کړي دي. زه ډاډه یم چې رییس کېم به له ما سره پر کړیو ژمنو ودرېږي».

ټاکل شوې ده چې ټرمپ به په توکیو کې د جاپان له لومړي وزیر شینزو ابې سره د شمالي کوریا د اټومي او توغندیزو پروګرامونو په اړه پر شته اندېښنو هم خبرې وکړي.

د امریکا او شمالي کوریا رغېدونکې اړیکې وروسته له هغې ترینګلې شوې، کله چې د دواړو هېوادونو د ولسمشرانو ترمنځ دوه پړاوه خبرې له کومې هوکړې پرته پای ته ورسېدې. دغه خبرې چې لومړی پړاو یې په سنګاپور او دویم پړاو یې په ویتنام کې تر سره شو، دواړو لورو ژمنه کړې وه، چې شمالي کوریا به د خپلو اټومي وسلو او توغندیو ازموینې بندوي او په مقابل کې به یې پر دغه هېواد د امریکا او نړیوالو هېوادونو اقتصادي بندیزونه لرې کېږي، خو تر اوسه د دواړو لورو لخوا شوې ژمنې نه دي عملي شوې.

## ملګري ملتونه: روسیه دې ژر تر ژره ۲۴ اوکرایني ماڼوګان او درې بېړۍ خوشې کړي



د ملګرو ملتونو د سمندري قوانینو محکمې ویلي، چې د روسیې حکومت باید ژر تر ژره هغه ۲۴ اوکرایني ماڼوګان او درې بېړۍ خوشې کړي، چې د تېر کال په نومبر کې یې نیولي دي.

دغې محکمې چې مرکز یې د جرمني په هامبرګ ښار کې دی، د مې په ۲۵مه دغه حکم صادر کړی دی.

یادې محکمې ته د اوکراین حکومت د روسیې پر ضد عرض کړی و، چې د محکمې له شلو قاضیانو ۱۹ یې د دغه حکم په ملاتړ رایه ورکړې ده.

د محکمې مشر جین هیون پایک ویلي چې قاضیانو پرېکړه کړې، چې روسیه د ژر تر ژره د اوکراین بېړۍ ور وسپاري او ماڼوګانو ته د هم اجازه ورکړي چې خپل هېواد ته ستانه شي.

جین هیون پایک زیاته کړې: «په ۱۹ موافقو او یوه مخالفه رایه، د روسیې له فدراسیونه غوښتنه کېږي چې په بېړه د اوکراین بېړۍ او ۲۴ ماڼوګان خوشې کړي او اجازه ورکړي چې اوکراین ته ستانه شي».

له روسیې څخه دغه غوښتنه داسې مهال ده چې د ملګرو ملتونو د سمندري قوانینو د محکمې د حکم عملي کول حتمي دي.


محکمې روسیې او اوکراین ته د جون تر ۲۵مې وخت ورکړی، چې د حکم د عملي کولو رپوټ ورکړي.

د اوکراین ولسمشر ولادیمیر زلنیسکي په خپله فېسبوکپاڼه لیکلي: «که روسیه دا حکم عملي کړي، ثرګنده به کړي چې په حقیقي ډول تیاره ده چې له اوکراین سره بحران پای ته ورسوي».

خو د روسیې د بهرنیو چارو وزارت په بیان کې ویل شوي، چې د سمندري اصولو په اړه د ملګرو ملتونو کنوانسیون په دې ځانګړي مورد کې د عملي کېدو وړ نه دی.


## ژوند

## که پیاوړې حافظه غواړی؛ خوب مو منظم کړئ!



تازه څېړنې ښیي چې که غواړی حافظه مو پیاوړې کړئ، نو خوب مو منظم کړئ. په دغه څېړنه کې راغلي، چې مناسب خوب کولای شي ستاسې حافظه دومره پیاوړې کړي، چې ټولې ورځنۍ پېښې او فعالیتونه یو په یو په یاد ولری. د څېړنې پایلې ښیي، چې ورځني فعالیتونه د خوب پر مهال په مغزو کې په منظم ډول تمرین او ساتل کېږي. له دې سربېره، د شپې منظم خوب د انسان د صحت لپاره هم ګټور دی. په ورته وخت کې څېړونکي اندېښنه ښیي، چې له اندازې زیات خوب عمر کموي. د ډاکترانو په باور، د بالغو کسانو لپاره د خوب مناسبه اندازه د اتو ساعتونو په شاوخوا کې ده. خو داسې هم ویل کېږي، چې که د انسان خوب له ټاکلې اندازې زیات شي، بیا حافظه کمزورې کوي. مانا دا چې ډېر او لږ خوب دواړه خپل تاوانونه لري. نو ښه ده چې انډول پکې په پام کې ونیول شي او د هر څه لپاره مهالوېش ولرو. که په ورځني ډول هر کار په خپل وخت تر سره کړی، ډاډه یم چې په هېڅ کومه برخه کې به وروسته پاتې نه شی او د هر کار لپاره به وخت ولری. پوهان وایي، وزګار خلک هېڅکله هم وخت نه لري.

## له یوه لاس څخه ټک نه خېژي



د نړۍ ډېری بریالیو شرکتونو لومړی ګډ کار پیل کړی دی؛ ګوګل (لري پیج) او (سرګي برین) تاسیس کړ او د اپل شرکت بنسټ لومړی ځل سټیوجابز او سټیو وزنیاک کېښود. پي پال امریکایي شرکت دی، چې الکترونیکي وسایل جوړوي او انتقالوي. پي پال د نړۍ په کچه تر ټولو پېژندل شوی هغه شرکت دی، چې بنسټ یې د لومړي ځل لپاره د پنځو کسانو لخوا کېښودل شو.

له یوه لاس څخه ټک نه خېژي، په اصل کې بریالي کسان هغه دي، چې له نورو سره یو ځای کار او جوړ جاړی وکړي. د بریالیو کسانو بله ځانګړنه دا ده، چې د نورو نظرونو ته په درنه سترګه ګوري او په ډېرو ځایونو کې یې عملي کوي هم.

د بېلګې په ډول، که غواړی په ګډه کار وکړی، لومړی یو شریک ابېبل جوړ کړئ او یا که غواړی پر یوې پروژې کار وکړی او په لرې ځایونو کې سره اوسی، خپل نظرونه د ابېبل له لارې له خپلو همکارانو سره شریک کړئ او یو بل ته مشورې ورکړئ. دغه څه مو له ټیم سره مرسته کوي، چې د مسوولیت احساس وکړي.